# مسیر

ورځپاڼه

نوی لید، نوی مزل

www.maseerdaily.af

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ دربیمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۳مه | ۶۳۳مه گڼه


## ولایت

۴ مخ

### بدخشان

د دې ولایت ډېری اوسېدونکي پر کرنه او مالداری بوخت دي او د ژوند ډېرې اړتیاوې له همدې لارې پوره کوي.



# ټرمپ د خپلې پرېکړې عملي کول غواړي؛

## امریکایي، ناټو او افغان چارواکي بیا په بېړه د سرتېرو ایستل خطرناک اقدام بولي



۳

### مایک پمپیو په دوحه کې د څه په لټه کې و؟

۲ مخ

### د شینجیانګ په زړه پورې کیسې

۲ مخ

### د افغانستان د بریښنایي او مخابراتي سکټورونو ریګولېشن؛ یوه پرتله

۳ مخ

### کرنې ریاست: د پکتیکا پر بزګرانو ۲۲۸ متریک ټنه د غنمو اصلاح شوي تخمونه وېشل کېږي



د پکتیکا د کرنې ریاست چارواکي وایي چې د دغه ولایت پر څلور زره او ۵۶۰ بزګرانو د ۲۲۸ متریک ټنه اصلاح شویو غنمو د تخمونو د وېش لړۍ پیل شوه.

د یاد ولایت د کرنې او مالدارۍ ریاست وایي، چې د دغه ولایت په څلور زره او ۵۶۰ بزګرانو د غنمو ۲۲۸ متریک ټنه اصلاح شوي تخمونه په سبسایډي ډول وېشل کېږي. د دوی په خبره، د دغو تخمونو ۴۰ سلنه لګښت د بزګرانو ۶۰ سلنه یې د کرنې وزارت له خوا ورکول کېږي چې ورسره به د دغه ولایت په زرګونه جریبه ځمکه کې د غنمو اصلاح شوي تخمونه وکرل شي.

د پکتیکا ولایت د کرنې ریاست چارواکي زیاتوي چې د دغو اصلاح شویو تخمونو د وېش موخه په دغه ولایت کې د غنمو د حاصلاتو زیاتوالی او د بزګرانو ملاتړ دی. په دې وروستیو کې کرنې وزارت د یوه نوي پلان له مخې، په ټول هېواد کې بزرګرانو ته د اصلاح شویو تخمونو د وېش لړۍ پیل کړې.

### عبدالله: شرایط ښه نه دي، امریکا دې د سرتېرو ایستلو کې بېړه نه کوي

د ملي مصالحې عالي شورا رییس عبدالله عبدالله وایي، امریکا پرېکړه کړې چې خپل سرتېري په بېړه خپل هېواد ته ستانه کړي. هغه زیاته کړې، د امریکا پرېکړې ته په درناوي، په کار ده چې شرایطو ته په پام په افغانستان کې د امریکایي سرتېرو شمېر کم شي. اسوشیټېډ پرېس د عبدالله له خولې ویلي، دوی د امریکا د پرېکړې ملاتړ کوي، خو اوس د افغانستان وضعیت دې ته نه دی چمتو چې د سرتېرو شمېر دې تر ټولو کمې کچې ته راټیټ شي. عبدالله څرګنده کړې چې امریکا به د تل لپاره افغانستان کې نه وي، خو ښه ده چې دا چاره په احتیاط ترسره شي. نوموړي له یوې خوا وېره ښودلې چې طالبان به د دوی په خوښه مخ ته لاړ نه شي، خو بلخوا یې په افغانستان کې د ناټو او یو شمېر امریکایي سرتېرو په پاتې کېدو خوښي څرګنده کړې ده.

د یادونې ده چې تېره اونۍ د امریکا د دفاع وزارت سرپرست کرستوفر مېلر ویلي وو چې د جنوري میاشتې تر نیمایي پورې به په افغانستان کې د خپلو سرتېرو شمېر له ۴۵۰۰ څخه ۲۵۰۰ ته راکم کړي.

له دې سره هممهاله د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو ورمه ورځ ناوخته د قطر په پلازمېنه کې له دواړو مذاکراتي ټیمونو سره خبرې کړې او یو هوکړې ته پر رسېدو یې ټینګار کړی دی.

### پمپیو: د سولې مذاکراتو مرکچي پلاوي دې د دایمي اوربند لپاره کار وکړي



۵ مخ

### کمیسیون حق دسترسی به اطلاعات: بانک مرکزی از رهگذر دادن اطلاعات یکی از بسته‌ترین نهادهای دولتی است




کمیسیون حق دسترسی به اطلاعات می‌گوید که بانک مرکزی از رهگذر دادن اطلاعات یکی از بسته‌ترین نهادهای دولتی است. مسئولان این کمیسیون، عدم پاسخ‌گویی مسئولان بانک مرکزی در پیوند به انفجار هفتده روز پیش بر کارمندان این بانک را نمونه می‌آورند. هفتده روز پس از انفجاری که به جان‌باختن سه کارمند بانک مرکزی به‌شمول یما سیاوش، گردانندهٔ پیشین برنامه‌های تلویزیونی انجامید، جزئیاتی دربارهٔ چگونه‌گی این انفجار در دست نیست. نه اجمل احمدی، سرپرست بانک مرکزی و نه هم مقام‌های دیگر این بانک در این پیوند به تماس‌ها و پرسش‌های خبرنگاران و نیز خانواده یما سیاوش پاسخ گفته‌اند. مسئولان کمیسیون حق دسترسی به اطلاعات، بر همه‌گانی شدن اطلاعات دربارهٔ انفجار بر موتر کارمندان بانک مرکزی، تأکید می‌ورزند.

عین‌الدین بهادری، رئیس کمیسیون حق دسترسی به اطلاعات گفت: «بانک مرکزی نه‌تنها این‌که در قضیهٔ آقای سیاوش اطلاعات را به خورد خبرنگاران نداده، ما قضایای متعدد دیگری هم داریم که نامه‌های متعددی، چندین نامه از جانب کمیسیون دسترسی به اطلاعات، در قضایای بسیار خاص، از بانک مرکزی تقاضای اطلاعات شده‌است.»

عصمت کُهسار، مسئول نشرات بانک مرکزی اما دیروز در گفت‌وگو با خبرنگاران گفته است: «معلومات ردیابی یا (GPS) موتری که مورد حمله قرار گرفت، تصاویر کامره‌های امنیتی بانک مرکزی که ساحه پارکینگ و رفت و برگشت موتر را نشان می‌دهد و سایر معلومات مورد نیاز را با نهادهای کشفی و امنیتی شریک ساخته‌ایم.»


Aksos Book Store

اکسوس کتابپلورنځی

کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos

کابل دربیمه ناحیه، دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ

0798-98-9696, 0202504652

www.aksosbookstore.af

Aksos Book Store

aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# مایک پمپیو په دوحه کې د څه په لټه کې و؟

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په دوحه کې له طالبانو او افغان مذاکراتي ټیم سره له لیدنې وروسته ویلي چې دواړه لوري یې د سولې په برخه کې لا زیات پرمختګ ته هڅولي او د سفر اصلي موخه یې هم همدا وه. افغان مذاکراتي پلاوی وایي چې پمپیو ته یې د طالبانو له تاوتریخوالي شکایت کړی، خو طالبان وایي چې له پمپیو سره په لیدنه کې یې د دوحې د هوکړې پر عملي کېدو او له تور لېسته د طالب مشرانو پر ایستلو او د ژمنو پر عملي کېدو بحث او خبرې کړې دي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر په داسې حال کې دوحې ته ورغلی و چې له افغانستان سره د مرستو په موخه جینوا کنفرانس کېدونکی دی او هلته په سوله کې پرمختګ او سراسري اوربند د مرستو لپاره د شرطونو په توګه مطرح کېږي. له بله اړخه پمپیو په داسې حال کې له طالبانو او افغان پلاوي سره ګوري چې امریکا د خپلو ځواکونو ایستل چټک کوي او ټاکل شوې چې په راتلونکو څه کم دوو میاشتو کې د خپلو سرتېرو شمېر دوو زرو ته را ټیټ کړي. د امریکایي ځواکونو د وتلو پر وړاندې تر ګردو لوی خنډ په افغان سوله کې ستونزې ګڼل کېږي چې ښایي د تاوتریخوالي د دوام سبب شي او بیا وروسته همدا تاوتریخوالی او جګړې امریکا ته یو سرخوږی جوړ کړي. له همدې امله امریکا هڅه کوي چې د ځواکونو تر وتلو وړاندې د سولې په برخه کې چټک پرمختګ وشي. امریکا غواړي چې د دوی د ځواکونو له چټک کمولو سره هممهاله په سوله کې هم چټک پرمختګ وشي او ورسره دا اندېښنه پیکه شي چې په افغانستان کې به جګړې دوام کوي. که څه هم ټول امریکایي سرتېري به ژر ونه وځي او بیا به هم دوه زره امریکایي ځواکونه تر راتلونکو څو میاشتو پورې پاتې وي، خو امریکایي اړخ به هڅه وکړي چې د ټولو ځواکونو له وتلو سره د سولې پروسه بریالۍ کړي او دواړه اړخونه پر یو ګډ حکومت توافق ته ورسوي.
نه یوازې د امریکایي ځواکونو وتل، بلکې د نړیوالو مرستې پر سوله او اوربند پورې غوټه کول، خپله دا مانا لري چې په دې خبرو کې باید پرمختګ وشي. حکومت او طالبان به دواړه له سخت فشار سره مخ شي او حکومت به ځکه له ډېر فشار سره مخ شي چې پر بهرنیو مرستو چلېږي او هغه مرستې اوس په سوله کې په پرمختګ پورې مشروطې شوې دي. له همدې کبله د سولې په خبرو کې به مهم او اساسي پرمختګ وشي او دواړه لوري به ډېر هغه څه ومني چې تر اوسه پورې یې نه منل.
د سولې په خبرو کې پر ښکېلو اړخونو د فشارونو او ممکنه پرمختګونو سره سره، یوه اندېښنه دا ده چې هر څه د بهرنیو پر فشار او غوښتنه مخ ته ځي او ښکېل افغاني لوري له خپله اړخه کوم مثبت ګام نه اخلي. دا فشارونه کمېدلی او زیاتېدلی شي، چې ورسره د ستونزو وېره هم وي. له بله اړخه کله چې دواړه اړخونه سولې ته واقعي تمایل ونه لري او هر څه د بهرني فشار په وسیله مخ ته ولاړ شي، بیا افغاني ګټې ډېرې زیان ویني او تر ډېره د بهرنیو ګټو ته پام کېږي.

# د شینجیانګ په زړه پورې کیسې



لیکوال: وانګ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

د چیني ژبې د یو شعر مفهوم دی، وایي: ((زموږ شینجیانګ یو ښایسته ځای دی، د اسماني غره په جنوبي او شمالي غاړو کې یې منظرې ډېرې په زړه پورې دي...)).
د چین د شینجیانګ د اویغور کورواکه سیمه د افغانستان له شمال- ختیځ بدخشان ولایت سره ګډه پوله لري او د مختلفو ملیتونو څه د پاسه ۲۵ میلیونه وګړي پکې ژوند کوي. د دې سیمې په اورومچې ښار کې نړیوال لوی بازار، د کناس ښکلی او ارام جهیل، د تورپان ښایسته کاسه او د کورنیو او بهرنیو سیلانیانو لپاره ډېر د لیدو وړ ځایونه دي. د چین د کمونېست ګوند د ۱۸مې دورې مرکزي کمیټې په تېره بیا د شینجیانګ له دویمې مرکزي کاري ناستې راهیسې د بېلابېلو ملیتونو خلک ښې لاسته راوړنې لري، چارې یې خوندي او د نیکمرغۍ احساس لري. په ټوله کې شینجیانګ خوځنده ځواک لري او هلته ډېرې په زړه پورې کیسې اوربدل کېږي.
د سان چانګ څاوز په نوي کلي کې د مالدارۍ بدلونونه
د شینجیانګ جیموسار ولسوالۍ د بي تینګ علاقه دارۍ سان چانګ څاوز کلی د قزاق مالدارانو نوی استوګنځای دی، چې د دې ولسوالۍ له دریو غرنیو سیمو څخه د مالدارانو لس ګونه کورنۍ ورته راغلې دي. مامورخان کلان هم یو له دوی څخه دی او هغه سیلانیانو ته د دغه ځای کیسه وکړه او ویې ویل، پنځه- شپږ کاله مخکې دغه ځای یوه لویه دښته وه او یوازې وحشي بوټي به پکې ولاړ وو، هغه او نورو مالدارانو به د پخوانیو نسلونو په شان دلته مالداري کوله او ژوند به یې په بېوزلۍ کې تېرېده. په ۲۰۱۴ کال کې د ده کورنۍ د بېوزله کورنیو په لېست کې شامله شوه او ځایي حکومت دوی ته ۴ غواګانې او ۱۷ وزې ورکړې، څو دوی له بېوزلۍ څخه ووځي. هغه د محلي حکومت په مرسته د مالدارۍ او تخنیک روزنیزو چارو په کورسونو کې ګډون وکړ او هلته یې د یوه ځاڅکي اوبو د لګولو مهارت هم زده کړ. هغه د تېرو شپږو کلونو په بهیر کې زده کړې تخنیکونه وکارول او اوس یې غواګانې او وزې زیاتې شوې دي، نوموړی اوس ۱۵ غواګانې او ۱۱۰ وزې او پسونه لري او د کال کابو ٦ زره امریکایي ډالره عایدات ترې لري.
شپیته کلن سپین ږیری اغا خان د خپل کور شاوخوا چاپېریال څخه ډېر راضي دی. ځایي حکومت په تېرو پنځو کلونو کې هلته ډېرې پانګونې کړې او د اوبو، برېښنا او سړک په ګډون ډېر بنسټیز تاسیسات یې بشپړ کړي دي. د سړکونو پر دواړو غاړو ونې ولاړې دي او د وحشي بوټو دښته اوس په عصري کلي بدله شوې ده. اغاخان د نورو کلیوالو په شان یو نوی کور هم تر لاسه کړی، چې مساحت یې ۱۲۰ متره مربع دی او ۱۲ زره امریکایي ډالره لګښت پرې شوی دی. خو هغه یوازې ۳ زره ډالره لګښت پر غاړه اخیستی او نور لګښت ځایي حکومت ورکړی دی. د ده په نوي کور کې ټلوېزیون او یخچال هم شته او کور ته نږدې بڼ یې د میوو ونې لري، پټې یې ښه سابه کوي او چرګې او چرګان هم ساتي. نوموړی له خپل ژوند ډېر راضي دی، څه ته اندېښنه نه لري او خوشحال ژوند کوي.
د مامورخان او اغاخان له کیسو څخه د شینجیانګ د خلکو خوشالي ځرګندېږي. په تېرو ۵ کلونو کې د شینجیانګ د خلکو د هر کس پر سر عایدات ۱،۵ برابره زیات شوي او هلته څه د پاسه لسو میلیونو وګړو نوي کورونه تر لاسه کړي دي. شینجیانګ د بېوزلۍ د له منځه وړلو په برخه کې د لیدو وړ بریالیتوب تر لاسه کړی دی. په ۲۰۱۴ کال کې په شینجیانګ کې د ثبت شویو بېوزلو کسانو شمېر درې میلیونه او ۸۹ زره تنه ښودل شوی و، خو تر ۲۰۱۹ کال پورې د دې سیمې دوه میلیونه ۹ لکه ۲۳ زره او دوه سوه کسان له بېوزلۍ څخه وتلي دي. د دې ترڅنګ په کلیوالو سیمو کې د بېوزلو کسانو لپاره د کور لرلو او د خوراکي توکو، جامو، بنسټیزې ښوونې او روزنې او درملنې اسانتیاوې هم برابرې شوې دي او اوس ټول ارام ژوند کوي.
په شین یوان ولسوالۍ کې د ملي یووالي کوڅه
د شین یوان ولسوالۍ کان سو علاقه داري د اورومچي ښار جنوب- لوېدیځ ته په ۳۰۰ کیلومترۍ کې پرته ده او په دغه علاقه دارۍ کې د ملي یووالي په نوم یوه کوڅه شته، چې په کې د هان، اویغور، قزاقي او هوی ملیتونو ۹ کورنۍ ژوند کوي.
د هان قوم اتیا کلنه سپینه سرې جانګ ګوي ینګ کونډه ده او زوی او لور یې په بل ځای کې ژوند کوي. په دې وروستیو کلونو کې میرمن جانګ ګوي ینګ چې ډېر عمر لري، لږ څه ناروغه شوې وه او د هغې ګاونډي اویغوري ځوان کورمن ورسره ډېره مرسته وکړه. یوه شپه د مېرمن جانګ د کور د اوبو نل خراب شوی و او هر ځای ته ترې اوبه بهېدلې وې، کله چې کورمن خبر شو، نو ډېر ژر یې ځان ور ورساوه او د اوبو نل یې ورته جوړ کړ. کله چې واوره ورېږي، نو کورمن یې له بامونو واوره توږي او لارې ورته پاکوي. جانګ ګوي ینګ وایي، چې زه او د کورمن کورنۍ نږدې نیمه پېړۍ کېږي چې ګاونډیان یو، موږ یو له بل سره مرسته کوو، موږ د یوې کورنۍ په څېر یو او کورمن زما د زوی په شان دی.
د قزاق قوم سپین ږیری تورسنبي علي یوازې ژوند کوي. د هغه ملا درد کوي چې له امله یې ژوند ډېر ستونزمن شوی دی، د ده ګاونډی اویغوري ځوان عمر کله کله د هغه کور ته ورځي او مینځي یې، جامې ور بدلوي، نوکان ور پرې کوي او په بڼ کې یو ځای قدم ورسره وهي. هغه ۱۵ کاله کېږي چې د نوموړي خدمت کوي. عمر وایي چې د دوی کورنۍ له ډېر وخت راهیسې ښې اړیکې لري، اوس کاکا سپین ږیری شوی، نو موږ باید تر وسې پورې ورسره مرسته وکړو او مونږ ټول عمر ښه ګاونډیان او خپلوان پاتې شوي یو.
د هوی قوم ماهای لان او د اویغور قوم ایمانام ښې ګاونډیانې او ملګرې دي. د ما های لان په مرسته ایمانام د سابو روزنه زده کړه، چې اوس نه یوازې د خپلې کورنۍ اړتیاوې پوره کوي؛ بلکې لږ څه اضافي عایدات هم تر لاسه کوي. دوی وایي چې موږ د خویندو په شان یو او ژوره دوستي لرو.
د دې علاقه دارۍ د ملي یووالي کوڅه د شینجیانګ د مختلفو قومونو د یووالي یوه نمونه ده. د شینجیانګ د څه پاسه یو میلیون او شپږ لکه کیلومتره مربع مساحت کې د چین د ٥٦ قومونو وګړي ژوند کوي، چې پکې د اویغوري، هان، قزاقي او هوي قومونه ډېره برخه نیسي. افغانان هم ښایي د دغو قومونو له نومونو سره اشنا وي، د بېلګې په ډول، تاجک، ازبک، قزاق او داسې نور قومونه... له دغو مختلفو قومونو څخه چیني ملت جوړ شوی، چې په همغږۍ او یووالي ګډ ژوند کوي. دوی د شینجیانګ ارامتیا او امنیت په ګډه ساتي او د شینجیانګ د دایمي ثبات او اقتصادي او ټولنیز پرمختګ لپاره خپل ستر خدمتونه کوي.
د اورومچي ښکلې شپنۍ منظرې
په اورومچي کې د ماښام ترورمۍ په خورېدو سره ښکلې منظرې تر سترګو کېږي، د دغه ښار اوسېدونکی لیو های چیانګ کله کله شي دا چیاو نومي لوی پل ته چکر وهي او هلته د رنګارنګ څراغونو ننداره کوي او له ښکلیو منظرو خوند اخلي. هغه کله کله له کورنۍ سره یو ځای د دغه ښار د نړیوال لوی بازار واټ ته هم ځي او هلته خوندور خوراکونه خوري، نڅاوې ګوري او سیل کوي. دلته د اورومچي ښار عنعنوي او عصري او نړیواله ښه احساسېږي. لیو های چیانګ پوهېږي چې دغه ارامتیا او سوکالي په اسانه نه دي تر لاسه شوي. په اورومچي ښار کې د ۲۰۰۹ کال د جولای په ۵مه د زورزیاتي او ترهګرۍ پېښه وشوه، چې له امله یې ۲ سوه تنه ووژل شول او ۱۷۰۰ نور ټپیان شول. دغه پېښه د اورومچي ښار د نړیوال لوی بازار په شاوخوا کې شوې وه، چې له امله یې یاده سیمه ډېره زیانمنه شوې وه. د ۲۰۱۴ کال د مې په ۲۲مه بریدګرو دوه موټرونه یاد پل ته نږدې په یو سهارني بازار کې پر خلکو ور وخېژول او وروسته یې چاودنې وکړې، چې له امله یې ۳۹ تنه ووژل شول او ۹۰ تنه نور ټپیان شول. د دې پېښې له امله خلکو ته وېره پیدا شوه او یاد بازار هم سوړ پاتې شوی و.
د بېلابېلو قومونو خلک له ترهګرۍ څخه کرکه کوي، نو حکومت له قوانینو سره سم په ټینګې ارادې او جدي تدبیرونو د ترهګرۍ، بېلتون غوښتونکو او تُندلارو ((درې ناوړه قواوې)) پر وړاندې مبارزه وکړه او د ټولنې ثبات او امنیت یې وساته. درې کاله کېږي چې په شینجیانګ کې هیڅ ترهګریزه پېښه نه ده شوې او خلک یې په امنیت او ارامۍ کې ژوند کوي، په بازارونو کې ازادانه چکر وهي او له خپلو ماشومانو سره په پارکونو کې لوبې کوي. دوکانداران د شپې تر ناوخت کاروبار کوي او هیڅ وېره نه لري.
په ۲۰۱۹ کال کې ۲۱۳ میلیونو کورنیو او بهرنیو سیلانیانو له شینجیانګ څخه لیدنه وکړه، چې دغه رقم د وړم کال په پرتله ۴۲ سلنه زیات و او شینجیانګ څه د پاسه ۵۵ میلیارده ډالره عایدات ترې تر لاسه کړي دي.
چین د مختلفو قومونو ګډ کور دی، قومي او مذهبي تګلارې لري، ټول قومونه او مذهبونه د هیواد په هر ځای کې یو شان حقونه لري. د چین حکومت د چیني ملت د ګډې ټولنې پر رویې، په چین کې د مذهبونو پر سالمېدو، د بېلابېلو ملیتونو پر یووالي او د مذهبونو پر سالم پرمختګ ټینګار کوي، چې د هېواد د مختلفو قومونو د خلکو لخوا یې هرکلی شوی او پلویان لري. شینجیانګ د مختلفو قومونو او بېلابېلو عقیدو لرونکو خلکو ګډ کور دی، خو له یوې مودې راهیسې ځینې کسان د ملیت او مذهب په نوم بېلتون غوښتنه، تُندلاري او ترهګري کوي او د شینجیانګ ارامتیا او امنیت ته یې زیانونه رسولي دي.
د شینجیانګ له دویمې مرکزي کاري ناستې راهیسې او د اړوندو خواوو د ګډو کوښښونو په رڼا کې دغه سیمه ارامه شوې، د خلکو ژوند خوندي شوی، د بېلابېلو قومونو لپاره د چیني ملت د ګډې ټولنې رویه د زړه له کومې د احساساتو ګډ ټکی ګرځېدلی، د ملي یووالي احساسات نور هم نږدې او ژور شوي، په مذهبي ساحه کې همغږي او ثبات نور هم ټینګ شوي او د شینجیانګ د دایمي امنیت او پرله پسې پرمختګ لپاره ټینګ اساس کېښودل شوی دی.
افغانستان له شینجیانګ سره د غرونو له لارې وصل شوی او د ګډ برخلیک ټولنه لري، نو ارام او ښه شینجیانګ د افغانستان په ګټه هم دی. د افغانستان د حکومت چارواکي، ګوندي غړي، خبریالان، محصلین او کارګران او نور افغان دوستان شینجیانګ ته تللي او هلته یې له ډېرو سیمو لیدنې کړې دي. د دې تر څنګ، شاوخوا ۲۰۰ افغان ماشومان چې د زړه سوري په مورزادي ناروغۍ اخته وو، په اورومچي کې یې درملنه وشوه او روغتیا یې تر لاسه کړه. دغه ماشومان وایي چې په شینجیانګ کې له تود هرکلي سره مخ شوي او هلته یې خواږه خاطرې خوړلي دي. شینجیانګ اوس د دوی لپاره دویم ټاټوبی او ښه ګاونډی دی.
ریيس شي جین پینګ د شینجیانګ په سړنې درېیمه مرکزي کاري ناسته کې په تېرو ۵ کلونو کې د شینجیانګ لاسته راوړنې لنډیز کړې، په نوې موده کې یې د شینجیانګ د کارونو لپاره هر اړخیز ترتیبات وړاندې کړل او پر دې یې ټینګار وکړ چې په نوې موده کې باید د شینجیانګ د ادارې په اړه د ګوند پر عمومي پلان پرله پسې ټینګار وشي او د چین ځانګړتیا لرونکی سوسیالیستي شینجیانګ باید داسې اباد شي، چې متحد، همغږی، سمسور، شتمن، متمدن او پرمختللی وي او ښه ایکولوژیکي چاپېریال ولري او خلک یې زیارکښ او چارې یې خوندي وي. دا به د شینجیانګ د دایمي پرمختګ او پرله پسې ارامتیا او د خلکو د لا ښه او نیکمرغه ژوند لپاره ټینګ ضمانت برابر کړي. په راتلونکې کې به همداسې ډېرې په زړه پورې کیسې وي او حتماً به افغانانو ته هم لا زیاته نیکمرغي ورسوي.

# د افغانستان د برېښنايي او مخابراتي سکټورونو رېگولېشن؛ یوه پرتله

محسن امین

**دویمه برخه:**

**د برېښنا شرکت د برېښنا له قانون څخه وړاندې وزیږېد**

له ۲۰۰۳ کال تر ۲۰۰۸ کال پورې د برېښنا په سکټور کې د قانون جوړوني، د خصوصي سکټور د پانگې په جلبولو او هغه مهال د افغانستان برېښنا موسسې د شرکت په بدلولو باندې کوم د پام وړ کار ونه شو. د ۲۰۰۸ کال په منځ کې د وزیرانو په مجلس (کابینې) کې دا پرېکړه وشوه چې د افغانستان برېښنا موسسه دې په شرکت بدله شي. د دې بدلون لوی هدف دا و چې د برېښنا په سکټور کې دې د شبکې تخنیکي او تجارتي عملیات او مدیریت له پالیسۍ او پلان جوړوني څخه جدا شي او نوموړی شرکت دې وتوانېږي چې په خپلو عملیاتو کې اسانتیا، ښه والی او مثمریت راوړي او وتوانېږي چې خپل عواید لوړ کړي، ضایعات راکم کړي او په اوږدمهال کې پر ځان بسیا شي.

د افغانستان برېښنا موسسه له حکومتي تصدۍ څخه راووتله او په شرکت بدله شوه، خو بیا هم تر ډېرو کلونو پورې یې د یوې تصدۍ په څېر فعالیت کاوه او سیاسي مداخلې پکې ډېرې وې او کاري استقلالیت یې تر لاسه نشو کړای. د افغانستان برېښنا شرکت په داسې وخت کې رامنځ ته شو چې لا د برېښنا پر قانون باندې کار نه و پیل شوی، څو د برېښنا سکټور د تنظیم یا ریگولیشن لپاره لاره هواره کړي. د برېښنا شرکت پر فعالیت پیل وکړ، خو لا د تنظیم اداره نه وه رامنځ ته شوې. یانې د برېښنا تعرفه او د نورو خدمتونو بیه له یوې خپلواکې ادارې پرته ټاکل کېده او د سکټور چارې د یو بې طرفه جهت له څارنې پرته مخ ته وړل کېدې.

په ۲۰۰۸ کال کې یو ځل بیا د امریکا حکومت له AEAI شرکت سره د دویم ځل لپاره قرارداد وکړ، چې د برېښنا سکټور ظرفیت لوړ کړي او دا ځل یې پکې د برېښنا د قانون جوړول هم شامل کړل. د همدې قرارداد له مخې امریکايي سلاکارانو د برېښنا په قانون کار پیل کړ، څو لومړنۍ مسوده یې ترتیب کړي. د نوموړي قانون لومړنۍ مسوده په ۲۰۰۹ کال کې د اوبو او انرژۍ وزارت ته وسپارل شوه، خو د انرژۍ وزارت تر ۲۰۱۵ کال پورې ونه شو کولای چې منظوري یې له کابینې تر لاسه کړي. دا په دې دلالت کوي چې کار نړیوالو کارپوهانو کاوه او د افغاني ادارو او پرسونل ظرفیت څرنگه چې لازمه وه، په هغه ډول یې لوړ نشو کړای. د بهرنیو مشاورینو قرارداد چې تکمیل شو، کار هم هملته ځنډنی شو او اووه مهم او قیمتي کلونه پکې ضایع شول.

**د برېښنا سکټور اوسنۍ ننگونې**

افغانستان یو له هغو هېوادونو څخه دی چې خلک یې د برېښنا ډېره کمه انرژي مصرفوي. په اوسط ډول یو کس په افغانستان کې په یو کال کې ۱۰۰ کیلوولټه ساعته انرژي مصرفوي، یا په بله مانا یو شخص یوازې یو ۵۰ واټه ژیړ گروپ د ورځې د پنځو نیمو ساعتونو لپاره روښانه ساتلی شي، نور هیڅ نشي مصرفولای. اوسمهال د افغانستان له ۳۰ څخه تر ۳۵ سلنه خلک برېښنا ته لاسرسی لري او په کلیو کې یوازې ۱۰ سلنه خلک برېښنا کارولای شي. برېښنا ته دا لاسرسی دوامداره نه دی، د برېښنا د کمښت له امله په خلکو د برېښنا پرچاوې عملي کېږي، ځینې خلک د ورځې یوازې څو ساعته برېښنا کارولای شي او ځینو ته دوې ورځې وروسته د برېښنا نوبت ورسېږي، په ځانگړي ډول په ژمي کې د کابل اوسېدونکي له سختو پرچاویو سره مخ وي.

له بل پلوه، افغانستان د گاونډیو هېوادونو د برېښنا په وارداتو باندې متکي دی، اوسمهال د افغانستان ۸۱ سلنه برېښنا له گاونډیو هېوادونو څخه واردېږي، گاونډیان په دې پوهېږي چې افغانستان د دوی انرژۍ ته اړتیا لري او کولای شي چې د قیمت د لوړولو تر څنگ، نور ډول فشارونه هم پر افغانستان وارد کړي.

همدارنگه د برېښنا په سکټور کې د مسلکي او تخنیکي ظرفیت نشتون یوه لویه ننگونه ده. د ډیزاین، طرحې جوړونې، پالیسۍ او مدیریت څخه نیولې بیا د شبکې تر حفظ او مراقبت پورې د وړ افغاني پرسونل د روزنې په برخه کې پانگونه ډېره وشوه، خو اغیزمنتیا یې کمه وه، د دې لامل دا و چې ډونرانو د خپلو پروژو لپاره لنډمهالي قراردادیان استخدامول او د وزارتونو د کارمندانو پر ځای روزنه او د کار اجراأت د دغو لنډمهالي قراردادیانو او سلاکارانو لخوا تر سره کېدل. اوسمهال د برېښنا سکټور بنسټونه وړ ظرفیتونه نه لري چې سکټور یوازې د افغانانو په مرسته اداره کړي، هم په تخنیکي او مدیریتي برخه کې او هم د پالیسۍ او ریگولېشن په برخه کې نړیوالو مشاورینو ته اړتیا لري.

بله لویه ننگونه دا ده چې د افغان حکومت او بهرنیو ډونرانو تر منځ د پروژو په اړه روښانه او ټولو ته منل شوې اجنډا نشته. هره مرسته کوونکې اداره له مالیې وزارت سره په دوه اړخیز تفاهم مخ ته ځي، خو د انرژۍ سکټور ټول اړوند وزارتونه او ادارې او د ټولو ډونرانو تر منځ سمه همغږي نه ده رامنځ ته شوې. د جامع او هر اړخیز پلان د نشتون له امله د انرژۍ په سکټور کې ډېرې داسې پروژې جوړې شوې، چې گټه او مثمریت یې د افغانستان خلکو ته کم و. د بېلگې په توگه، د تره خېلو ۱۰۰ میگاواټه ډیزلي دستگاه چې له ۳۳۵ میلیونو ډالرو بودیجې سره په ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کلونو کې پرې کار روان و، هغه مهال پرې د اوبو بند جوړېدای شو، خو له بدمرغه دا کار ونه شو.

تر ټولو مهمه ننگونه د برېښنا په سکټور کې د حقوقي چوکاټ او د تنظیم د خپلواکې ادارې نشتون دی، چې له امله یې د خصوصي سکټور پانگونه پنځلس کلونه وځنډېده او ۳۵ میلیونو خلکو ته د برېښنا لاسرسی یوازې حکومت او ډونرانو ته ور تر غاړې شو. دا هغه برخه ده چې په حکومتي چارواکو پورې اړه لري، نه کوم د اوبو بند دی چې اتو کلونو وخت ته اړتیا ولري او نه هم داسې زیربنایي پروژه ده چې سلگونو میلیونو ډالرو ته پکې ضرورت وي، یوازې د قانون، مقرراتو او د یوې اداري جوړول دي. د برېښنا قانون په اوو کلونو کې جوړ شو، د اداري پر جوړېدلو څلور کلونه تېر شول، خو تر اوسه یې کار نه دی پیل کړی.

**د مخابراتو یا د ټیلیکام له سکټور سره د برېښنا سکټور پرتله**

په داسې حال کې چې د برېښنا په سکټور کې قانون جوړونې اووه کلونه ونیو او لا تر اوسه د خدماتو د تنظیم اداري پر کار پیل نه دی کړی، بلخوا د مخابراتو یا د ټیلیکام په سکټور کې د پام وړ پرمختگ وشو او اوسمهال د افغانستان په خصوصي سکټور کې د یوې بریالۍ نمونې په توگه یادېږي. که څه هم د پیرودونکو د حقونو د ساتنې په برخه کې خورا ډېرې ستونزې لري؛ خو بیا هم د افغانستان د مخابراتو سکټور وتوانید چې له دوو میلیاردو ډالرو څخه زیاته پانگه را جلب کړي او په دا ډول د حکومت لپاره د عوایدو یوه ښه سرچینه وگرځېده او سلگونو خلکو ته یې د کار زمینه برابره کړه.

په ۲۰۰۲ کال کې د مخابراتو او ټیلیفون خدمات په افغانستان کې په نشت حساب وو، د گرځنده ټیلیفون یا موبایل خدمات نه وو. خلک مجبور وو چې له کلي څخه ښار ته ولاړ شي او د مخابراتو له ریاست څخه خپلو خپلوانو ته له هېواده بهر زنگ ووهي او یا مجبورېدل چې گاونډیو هېوادونو ته د یو ټیلیفون لپاره ولاړ شي. د مخابراتي سکټور لپاره له ۲۰۰۲ کال څخه تر ۲۰۱۹ کال پورې یاد سفر د سکټور د پراختیا په برخه کې بریالی و، ننگونې یې هم درلودې چې لاندې به پرې بحث وکړو. د مخابراتو وزارت او د اترا اداري د ارقامو له مخې، اوسمهال د افغانستان ۹۰ سلنه خلک موبایل او مخابراتي خدماتو ته لاسرسی لري. ۲۲ نیم میلیونه وگړي گرځنده ټیلیفونونه کاروي، تقریباً اته میلیونه وگړي انټرنېټي خدماتو ته لاسرسی لري او همدارنگه شپږ مخابراتي شرکتونه په هېواد کې فعالیت کوي چې د گرځنده ټیلیفون خدمات (غږیز، لیکلي پیغامونه او انټرنېټ) وړاندې کوي او ټولټال څه کم اووه زره مخابراتي پایې په ټول افغانستان کې نصب شوې دي. پر دې سربېره، ٦٢ شرکتونه یوازې د چټک انټرنېټ خدمات عرضه کوي.

په دې کچه پرمختگ د قوانینو او مقرراتو، حقوقي چوکاټ او د تنظیم له اداري پرته ناشونی و. دا ډول اصلاحات یا ریفورم د هر هغه سکټور لپاره اړین دي چې عرضه کوونکي یې کم او پېرودونکي یې عام ولس وي.

**دوام لري...**

# ټرمپ د خپلې پرېکړې عملي کول غواړي؛

## امریکايي، ناټو او افغان چارواکي بیا په بېره د سرتېرو ایستل خطرناک اقدام بولي



په افغانستان کې د امریکايي ځواکونو د وتلو په اړه ضد او نقیضې څرگندونې کېږي. د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ پر دې ټینگار کوي چې د راتلونکي کال د جنورۍ تر نیمایي دې د امریکا ټول عسکر له افغانستانه ووځي او خپلو کورونو ته دې ستانه شي، خو ان د امریکا په حکومت کې هم ډېری کسان د ټرمپ له دې پرېکړې سره مخالف دي. کانگرېس هم له دې پرېکړې سره مخالفت څرگند کړی او ناټو هم پر امریکا غږ کړی چې له خپلې پرېکړې په شا شي. د ملي مصالحې عالي شورا مشر هم په خپلو څرگندونو کې ویلي چې اوس د امریکايي عسکرو د وتلو لپاره مناسب وخت نه دی.

څه باندې دوې اونۍ کېږي چې د امریکا د دفاع وزارت یا پنټاگون نوي سرپرست وزیر له افغانستانه د سرتېرو د ایستلو پرېکړه اعلان کړه. نوموړي ووېل چې د ټرمپ د امر او لارښوونې پر بنسټ به ډېر ژر له افغانستان ټول سرتېري د راتلونکي کال د جنورۍ تر ۱۵مې پورې وباسي. هغه ویلي وو چې یوازې ۲۵۰۰ امریکايي عسکر به له افغان پوځ سره د نږدې همکارۍ لپاره پاتې کېږي. د ټرمپ پرېکړه د نوموړي د حکومت په وروستیو ورځو کې عملي کېږي او داسې مهال به ټول سرتېري له افغانستانه ستانه شي چې د هغه د واک به یوازې پنځه ورځې پاتې وي.

اوس د امریکا کانگرېس، نظامي چارواکو، پخوانیو نظامیانو، ناټو او ان افغان حکومت هم له افغانستانه د امریکايي ځواکونو بېړني وتل د ټولې سیمې او نړۍ په زیان بللي دي. د امریکا د کانگرېس غړو ته د امریکا گڼو سیاسي او نظامي شنونکو هم په خپلو غوښتنلیکونو کې ویلي چې باید د ټرمپ د پرېکړې مخنیوی وشي او د امریکا گټو ته په کتو دې له دغه هېواده سرتېري نه ایستل کېږي. د امریکا سنا هم پر دې باور ده چې اوس د امریکايي ځواکونو د ایستلو لپاره مناسب وخت نه دی.

د امریکا د سنا جرگې د دفاعي کمېټې مشر په افغانستان کې د امریکايي سرتېرو پر پاتې کېدو ټینگار کړی دی. ادم سمیت ویلي، افغانان تر اوسه په یوازې ځان د خپلې خاورې ساتلو وړتیا نه لري، نو اړتیا ده چې امریکا تر یوې مودې په دغه هېواد کې خپل نظامي حضور ته دوام ورکړي. نوموړي زیاته کړې، په افغانستان کې لا هم د ترهگرو د رشد لپاره مناسبې ساحې وجود لري او ډېری شنونکي پر دې باور دي چې که امریکايي ځواکونه له دغه هېواده وایستل شي، نو د سپټمبر ۱۱مې پېښه به بیا تکرار شي.

له دې ورهاخوا د ناټو یوه پخواني پوځي هم ټینگار کړی چې له افغانستان د سرتېرو ایستل د نړۍ او سیمې د ملي امنیت لپاره خطرونه جوړولی شي. د ناټو دغه پخواني لوړپوړي چارواکي ویلي چې د ټرمپ عجولانه او غیر مسوولانه پرېکړو مایوسه کړي دي. د ناټو ځواکونو پخواني قوماندان جنرال جیم سټاورډیس ویلي، القاعده او نورې ترهگرې ډلې لا هم په افغانستان کې د فعالیت لپاره پراخې امنې ساحې لري او که امریکايي ځواکونه له افغانستان څخه ووځي، نو په دغه هېواد کې د امریکا او متحدینو پیل کړې جگړه به بې هدفه پای ته ورسېږي. هغه ویلي، د پیل شوې جگړې موخه د القاعده شبکې له منځه وړل وو، خو تر اوسه دا ډله له منځه نه ده تللې او په دې وروستیو کې یې یو ځل بیا د منسجم کېدو راپورونه ورکړل شوي دي.

بلخوا په افغان حکومت کې هم ځینې کړۍ د امریکايي ځواکونو د حضور ملاتړې دي او په دې برخه کې عجولانه پرېکړه خطرناکه بولي. د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله وایي، سره له دې چې امریکايي ځواکونه به د تل لپاره په افغانستان کې نه وي، خو دا چې جگړې شدیدې شوې دي، ترهگرې ډلې خپل فعالیتونه ترسره کوي او وضعیت ترینگلی دی، نو د دې اړتیا ده چې امریکايي ځواکونه په افغانستان کې د افغان ځواکونو ملاتړ ته ادامه ورکړي. هغه ویلي، په اوسنیو شرایطو کې له افغانستان د امریکايي ځواکونو وتل خطرناکې پایلې لرلی شي.

# راپورونه: امریکا منځنې ختیځ ته سترې جنگي الوتکې او پوځي تجهیزات لېږي

امریکايي رسنۍ وايي، چې امریکا منځنی ختیځ ته د نظامي تجهیزاتو او لویو جنگي الوتکو لېږل پیل کړي دي.

امریکايي رسنۍ زیاتوي چې د امریکا پوځ تازه په خپرو کړو پیغامونو کې ویلي چې منځني ختیځ ته د دوی گڼې بي ۵۲ ډوله جنگي الوتکې پر لاره دي. د سرچینې په خبره، دغه الوتکې له امریکا روانې کړل شوې دي، خو دا معلومه نه ده چې په منځني ختیځ کې به چېرته ځای پر ځای کېږي.

د امریکايي رسنیو د راپورونو له مخې، که څه هم امریکا په منځني ختیځ کې د خپلو پوځیانو د شمېر د کمولو خبره کوي، خو اوس دا دی یادې سیمې ته تر ټولو خطرناکې جنگي الوتکې لېږل کېږي چې دا ټولې سیمې، په تېره ایران ته بد پیغام کېدلی شي. د سیمې هېوادونو او ایران تر اوسه د امریکا د دغه اقدام په اړه غبرگون نه دی ښودلی.

د یادونې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا پوځ اعلان وکړ چې په عراق کې به د خپلو پوځیانو شمېر تر ټولو ټیټې کچې ته راکم کړي. دغه راز یاد هېواد تېر کال له سوریې څخه هم خپل گڼ سرتېري وایستل او یوازې محدود شمېر یې هلته پاتې دي.

دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې د امریکا او ایران ترمنځ اړیکې د بل هر وخت په پرتله ترینگلې شوې او ان تر دې چې داسې راپورونه خپاره شول چې روان کال ولسمشر ټرمپ پر ایران د برید لپاره خپل لوړپوړي قوماندانان او سلاکاران مشورې ته هم وربللي وو.

په ورته مهال سعودي عربستان وایي، تمه لري چې د بایډن له حکومت سره به ښې اړیکې ولري. د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزیر په خپله یوه تازه مرکه کې ویلي، د دوی حکومت دمگړی له بایډن سره د کار لپاره په تیاریو بوخت دی. د سرچینې په خبره، د سعودي حکومت تمه لري چې د بایډن حکومت به په ټوله نړۍ کې په تېره له متحدینو سره پراخې او پیاوړې اړیکې ولري.


د سعودي عربستان د بهرنیو چارو وزارت دغه راز وایي چې په سیمه کې روان تحولات د امریکا او سعودي عربستان لا ډېرې همکارۍ او ښو اړیکو ته اړ ده. سعودي عربستان په نظامي او امنیتي برخه کې تر ډېره پر امریکا متکي ده او تر څنگ یې په سیمه کې له ایران سره د ناندریو لپاره هم د امریکا ملگرتیا ته سخته اړتیا لري.

## د کتاب خبرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسدوراني او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### دویمه برخه
### د نړۍ دویم تر ټولو زوړ مسلک




سېنها: دا چې موساد مخکښ مشران لري، نو ايا د اسرائيلو ستونزې نه دي په گوته شوې؟
دولت: که ته چېرته يو فېکس يا قالبي ذهنيت ولرې نو ستونزې نه شې په گوته کولی- لکه دا هغه څه دي چې دي، دا هغه څه دي چې حقيقت دي، دا هغه څه دي چې موږ يې درک کوو او دا هغه څه دي چې ناسم دي. نو بلاخره به څه کوې؟ هر څه له وړاندې شوي، څه نه شته چې پيدا يې کړې يا پرې بريالی شې. ته پرې نه پوهېږې. موساد د ايفريم هلاوي په څېر متفاوت مشران چې زما د عصر سړی دی، هم لرلي.
دوراني: په موساد کې ځينې مخکښ او نوموتي کسان تېر شوي. له دوی څخه يو تن يې په برلين کې د پگواش په کنفرانس کې ما وليد او د هغه ځايناستی هم حاضر و. تر تقاعد وروسته دواړو ازادې او سپينې خبرې کولې، ويې ويل چې د اسرائيلو د حکومت هغه پلان چې غوښتل يې پر ايران بريد وکړي، لېونتوب و.
دولت: هو، همداسې ده.
دوراني: KGB به په هغې ازموينې کې بريالی نه شي، چې زه يې د استخباراتي سازمانونو د ازمايښت لپاره لرم. دا په هر سيستم کې دود دی چې نيوکه او انتقاد نه ستايل کېږي. يو مادون يا ټيټ پوړی افسر نه شي کولای ووايي چې ښاغليه په دې اړه ستاسو ارزونه ناسمه ده. دا هغه حقيقت دی چې موږ يې په خپلو سترگو وينو.
دولت: ښاغليه! په ټولو سازمانونو کې همدا کيسه ده، د دې چارې ماهيت همداسې دی. د KGB ستونزه دا وه چې شخصيت محوره وه. همدا لامل دی چې پوتين نن پر نړۍ واک چلوي، هغه هم په همدې ډله کې راځي. د سړې جگړې دغه جنگيالی له هغو بدلونونو وروسته هم بدل نه شو، چې روسيې د شوروي اتحاد تر ړنگېدو وروسته تجربه کړل. همدا لامل دی چې پوتين هڅه کوي اوسنۍ اداره د شوروي اتحاد د وخت په څېر يوه اداره اوسي.
دوراني: زما په اند د جرمني BND په ميتوديک او جدي ډول کار کوي. جرمنيان ډېر جدي خلک دي. خو توليد يې کله مارک ته نه رسېږي.BND د هغوی د ځانغوښتنې قرباني ده. د دې لپاره چې هر څه بې عيبه او په سم ډول ترسره شي، وروستيو جزيياتو ته بايد انتظار وشي.
سېنها: يعنې په يو لوی تصوير کې بايلونکې ده؟
دوراني: دا هغه څه دي چې د وخت په اوږدو کې بايد زده کړل شي. اړينه نه ده چې هر څه ته انتظار وشي، اوبه له ورخه تېرې شي او بيا ووايې چې اوس مو کار وکړ او راځئ چې يو پلان جوړ کړو. نه شي کېدای چې يو کس ووايي موضوع د پراخېدو په حال کې ده او راځه چې لاس په کار شو. دا د هغه چا دنده ده چې د ستراتېژيکې ارزونې، ستراتېژيک تحليل او ستراتېژيکو اړتياوو دنده پر مخ وړي. په BND کې د دې شي کمی دی. د جرمني تر اتحاد وروسته، يوه کس وويل چې اقتصاد زموږ تر توقع خراب حالت ته لاړ.BND هغه وخت چېرته وه؟ هغه ځانگه چې په دې اړه يې بايد تحليل او ارزونه کړې وای، په رأس کې يې يو کس و او زما په اند د هغه خوب داسې و: موږ اطلاعات لرل چې د کمپيوټر په مرسته مو چاڼ، تحليل او وڅېړل، خو موږ يوازې د ۱۹۵۰ او ٦۰ لسيزو اطلاعاتو ته لاسرسی پيدا کړ، نه د ۹۰ يمې لسيزې يا هغه وخت چې د برلين دېوال ونړېد. له هېڅ يوې استخباراتي اداري څخه بايد د دې ډول کار توقع ونه شي چې د دېرشو کلونو مخکې اطلاعات تحليل کوي. يو شمېر نور سازمانونه هم له ورته برخليک سره مخ شوي، خو وروسته پاخه شوي او تجربه يې حاصله کړې ده. په ټوله کې که يوه استخباراتي اداره درته پر وخت ستراتېژيک يا تکتيکي اطلاعات چمتو نه شي کړای، نو څنگه شونې ده چې يو ښه سازمان وگڼل شي؟
دولت: هر استخباراتي سازمان په دې باور دی چې تر نورو ښه پوهېږي. له مسلکي اړخه زه فکر کوم برېټانيا ډېره ښه ده، هغوی لږ خبرې کوي او په پټه خوله دنده سر ته رسوي.
سېنها: او هغوی جېمز بونډ لري.
دوراني: د جېمز بونډ په اړه نه پوهېږم. خو د برېټانيا د کار ښه په ځانگړې توگه د ۷/۷ له بريد وروسته ارامه ده. په هر حال، گټور نه دی.
سېنها: حتی د ويسټ منېسټر تر وروستي بريد وروسته يې هم همدې تگلارې ته دوام ورکړ.
**دوام لري...**

# بدخشان

حشمت الله نوري

بدخشان د هېواد په شمال- ختيځ زون کې موقعيت لري او د هېواد له شنو او غرنيو ولايتونو څخه يو دی، چې له تاجکستان، پاکستان او چين سره گډه پوله لري.
په دې ولايت کې ډېرې سرشاره طبيعي منابع شته، چې له دې جملې څخه د لال او لاجوردو کانونه او تاريخي ابدات يادولی شو، چې د دې ولايت تاريخي قدامت څرگندوي.
د جغرافيوي موقعيت له اړخه دا ولايت د ختيځ طول البلد په ۷۰ درجو، څلورو دقيقو او ۳٦ ثانيو او د شمالي عرض البلد په ۳٦ درجو، ۵۰ دقيقو او ۱٦ ثانيو کې واقع دی.
دا ولايت د کابل په ٤۷۰ کيلومترۍ کې موقعيت لري او له سوېلي اړخ څخه له کونړ، لغمان او کاپيسا او د لوېديځ اړخ څخه له تخار سره پوله لري. بدخشان يوه غرنۍ سيمه ده، چې له ډېرو اوچتو غرونو او واورينو څوکو څخه جوړ دی، تر ټولو اوچت غرونه يې واخان، پامير او هندوکش دي.
د بدخشان پراخوالی له ٤۷۰ زره کيلومتره مربع زيات او د وگړو شمېر يې څه باندې اته سوه زره اټکل شوی دی. دا ولايت په اوړي کې گرم، خو په ژمي کې بيا خورا يخ وي او په ډېرو برخو کې يې ښلوونکې لارې د واورو له امله په کال کې شپږ مياشتې بندېږي.
بدخشان د سمندر له سطحې ۱۸۰۰ متره لوړوالی لري او مرکز يې د فيض اباد ښار دی، چې پخوا د (جوزگون) په نامه يادېده، ځکه چې د جوز ونې په کې زياتې وې.
بدخشان د مرکز په گډون له ۲۹ اداري واحدونو څخه جوړ شوی دی، چې مرکز يې د فيض اباد ښار او ولسوالۍ يې له واخان، کشم، بهارک، جُرم، يفتل پايين، يفتل بالا، راغ، ارگو، درايم، ارغنچخواه، نُسي، شُکي، ماهمي، اشکاشم، خاش، خواهان، کوفاب، کوهستان، کران و منجان، شهر بزرگ، شغنان، شهدا، تگاب، تيشکان، وردوج، يمگان، ياوان و زيباک، بهارک، شهداء، جُرم، خاش، راغ، کشم، ارگو او درايم څخه عبارت دي. د دې ولايت ډېری استوگن تاجک دي او په فارسي ژبه خبرې کوي، خو ځينې نور يې په شغني، پاميري او په سرحداتو کې په چيني ژبه هم خبرې کوي.
د اوبو بندونه
کوکچه، واخان، انجمن، وردوج، تگاب، تنگی شيوه، پامير او چقمقين د دې ولايت له مهمو بندونو څخه دي، په دې ولايت کې د کښت ډېرې اوبه د غرو له لمنو، کوکچې سيند او مرستيالانو څخه يې هم چمتو کېږي.
کلتور
د بدخشان د خلکو کلتور او دودونه له هغو ولسواليو سره توپير لري، چې له تاجکستان او چين سره په گډه پوله پرتې دي.
په دې ولايت کې هڅه شوې چې د ولسي فرهنگ او ادبياتو د ودې او پرمختگ لپاره ډېرې هڅې وشي او په ورځنيو خبرو کې د پرديو لغتونو د کارونې مخنيوی وشي.
د دې ولايت د اطلاعاتو او فرهنگ رياست په دې ولايت کې له فرهنگي او ادبي هڅو تل ملاتړ کړی او د دې تر څنگ د سيمه ييز دود له مخې د بازار ورځې، چې ډېر ځله جمع يا پنجشنبه وي، د مالونو د تبادلې سبب گرځېدلې دي.
د هېواد پياوړی شاعر او فيلسوف حکيم ناصرخسرو بلخي هم د ژوند زياته برخه په دې ولايت کې تېره کړې ده او په خپلو شعرونو کې يې فلسفه او حکمت را نغاړلي دي. د همدې شاعر قبر هم د بدخشان په يمگان ولسوالۍ کې د ډېرو کسانو د زيارت ځای گرځېدلی دی.
په دې ولايت کې ډېر محلي سندرغاړي هم تېر شوي، چې له دې جملې يې د فولکلوريکو سندرو د ويونکي بازگل بدخشي نوم اخيستلی شو. د دې ولايت سندرې بېل سبک لري چې درمحمد کشمي، مير مفتون، پهلوان منگل، استاد شاولي ولي ورته ډېر خدمتونه کړي او ډېرې ترانې يې خپله تصنيف او کمپوز کړې دي.
تاريخي ځايونه
د بدخشان ۲۱ تاريخي ابدې د اطلاعاتو او کلتور وزارت سره راجستر شوې، چې په فيض اباد او نورو اتو ولسواليو کې واقع دي او تر ټولو مشهورې يې



د کوکچې د پلخشتي، خرقه مبارکه او د ميرياری بيگ، ميرغياث او حکيم ناصر خسرو له قبرونو څخه عبارت دي.
له نورو ځايونو څخه يې کولی شو د ۵۷ تاريخي منارونو، د بهارک ويرانو او زيباک ولسوالۍ له توپخانې او اشکاشم او قلعه پنجه څخه يادونه وکړو چې تر ترميم لاندې دي.
بدخشان د اسمانڅکو غرونو درلودونکی دی، چې خواجه محمد، هزارچشمه او سفيد خرس يې له مهمو غرونو څخه عبارت دي او د هندوکش تر ټولو لوړه څوکه يې (دوشاخه) نومېږي.
په بدخشان کې د مسو او اوسپنې ډېر کانونه هم شته او په ځينو ساحو کې يې خلک د خوړونو راوتو پر مهال داسې ربگ هم تر لاسه کوي، چې په سرو زرو لړلی وي، دوی بيا همدا ريگونه چاڼوي او سره زر ترې لاسته راوړي، چې د اقتصادي ودې لپاره يې يوه ښه سرچينه ده.
موزيم
په دغه ولايت کې لا هم د تاريخي اثارو د ساتلو لپاره کوم ځانگړی موزيم نشته، خو کله چې په ۱۳۵۷ کال کې د دې ولايت په دشت قرغ کې يو ډله ييز قبر وموندل شو، نو د شهيدانو موزيم په نامه يو مرکز هم ورسره رسماً پرانيستل شو.
په دې مرکز کې د سلگونو هغو کسانو د وجود نښې ساتل کېږي، چې په ۱۳۵۷ کال کمونيستانو وژلي وو.
ولسمشر کرزي هم د دې مړو له پيدا کېدو وروسته بدخشان ته سفر وکړ او د ولسمشرۍ ماڼۍ د حکم پر بنسټ ورته يو يادگاري څلی هم جوړ شو.
په وروستيو کلونو کې ۷۰ نمونې چې د بدخشان د خلکو صنعت ۵۰۰ کلنه تاريخي مخينه څرگندوي، له قاچاق وړونکو څخه ونيول شوې، چې کابل ته اطلاعاتو او کلتور وزارت ته واستول شوې، خو تر بېرته ردېدو وروسته اوس د بدخشان د دولتي امنيت په اداره کې ساتل کېږي.
په همدې ولايت کې د قرانکريم يوه نسخه هم د حکيم ناصر خسرو له قبر څخه تر لاسه شوې، چې اوس اطلاعاتو او کلتور وزارت ته د ساتنې په موخه استول شوې ده.
رسنۍ
اوسمهال په دې ولايت کې ۲۵ چاپي، انځوريزې او غږيزې رسنۍ شته چې په سلگونو کسان پکې کار کوي او مهمې هغه يې امو، کوکچه، بهارستان او صدای کشم سيمه ييزې راډيوگانې، ملي ټلوېزيون، بدخشان، سيمای بدخشان، سيمای شهروند، روشنگري، صدای بدخشان، ابتهاج، سروش پامير، ارتقای فرهنگي، لاجور، سرزمين من، صحت رواني، نوای اطراف او صعود جريدې، حکومتداري خوب، شاروالي فيض اباد مياشتنۍ او ځينې نورې يې هغه مهمې دي.
د دې تر څنگ د بيان، اريانا او بي بي سي اف ايم راډيوگانې او د ارزو، نور، اريانا او ملي ټلوېزيون خپرونې هم دې ولايت کې اورېدل او کتل کېدای شي.
په دې ولايت کې رسنيو ته د خلکو لاسرسی هم زيات دی او اوسېدونکي يې په شمال- ختيځ زون کې هغه کسان دي، چې ډېرې چاپي رسنۍ ورته رسېږي.
پوهنه
په دغه ولايت کې ټولټال ٦۵۰ ښوونځي شته چې د نارينه او ښځينه زده کوونکو شمېر يې ۳۲۹ زره کسانو ته رسېږي او ۲ زره ښوونکي ورته گومارل شوي دي. د دې تر څنگ په کې ۳۲ ديني دارالعلومونه او درې دارالمعليمينونه هم فعال دي.
بدخشان يو پوهنتون هم لري چې له ۱۵۰۰ زيات ښځينه او نارينه زده کوونکي لري او په ښوونه او روزنه، ادبياتو او کرنې پوهنځي کې زده کړې کوي.
د شوې سروې له مخې، د دې ولايت ۲۵ سلنه وگړي لوستي دي او پاتې نورو ته يې د سواد او روزنې په موخه د پوهنې وزارت او نورو ښوونيزو موسسو د سواد زده کړې کورسونه جوړ کړي دي.
صنعت
الچه، کرباس، ټغر، چکمن او قاقمه گنډنه، زرگري، اهنگري، مسگري، موزه او بوټ گنډنه، کلالي، گلدوزي، خامک دوزي او ترکاڼي د دې ولايت له لاسي صنايعو څخه دي چې ډېره برخه يې ښځې سمبالوي. د دې تر څنگ نخي ټوټې او لمڅي هم په کورونو کې جوړېږي.
په وروستيو کلونو کې د کورنيو لاسي صنايعو کورني توليد کچه لوړه شوې او اوسمهال په سلگونو مېرمنې په ښځينه حرفوي پروژو کې پر کار بوختې دي.
په کلنيو نندارتونونو کې د بدخشان د خلکو لاسي صنايعو د دولت تر څنگ، د کورنيو او بهرنيو موسسو پاملرنه هم ځان ته ور اړولې او بازار يې موندلی، خو د دې ولايت اوسېدونکي د لاسي صنايعو تر څنگ په کرنه او د پسونو، اسونو او غواگانو پر روزنه هم بوخت او خپلې اقتصادي اړتياوې له همدې لارې پوره کوي.
د دغه ولايت د کران و نمجان ولسوالۍ لاجورد هم ايستل کېږي او په دې وروستيو کې د سترامبي کان چې د کوکچې په لوېديځ کې واقع دی، هم گټې اخيستنې ته سپارل شوی دی. د کوکچې سيند له زرشويان حصې څخه هم په زياته اندازه سره زر تر لاسه کېږي.
کرنه
د بدخشان ډېری خلک پر کرنه او مالدارۍ بوخت دي، چې غلې دانې لکه وريجې، غنم، جوار، جودر(تورغنم)، ارزن او باقلي يې له مهمو کرنيزو محصولاتو دي .
په دې ولايت کې له ۳۹۰ زره هکتاره زياته ځمکه اوبيزه او تر ٦۰۰ زره هکتارو پورې للمه ده.
غوزان، زردالو، الوبالو او مڼې يې ښه نوم لري، خو د بهارک مڼې او د سرغيلان غوزانو بيا ښه نوم گټلی، د دې تر څنگ غوزان، غرنې بادام، خنجک ارچه او شمشاد هم د دې ولايت په غرنيو سيمو کې موندل کېږي.
د دې ولايت مهم حيوانات له اسونو، وزو، پسونو او غويانو څخه عبارت دي، خو په ځنگلونو کې يې د خرس او لېوه په څېر حيوانات هم شته. د دې تر څنگ د گېدړو او خفک پوستونو خرڅلاو په کې ښه تجارت گرځېدلی. د دې ولايت مارکوپولو هوسۍ د مشهورو او بې جوړې حيواناتو څخه دي.
ځنگلونه
د بدخشان په لوړو سيمو کې د صنوبر، سوزني برگ، بلوط، پستې او ناجو ډېر ځنگلونه شته چې په څنگ کې يې د چنار، کج بيد او د غوزانو، بادامو، توتو او سنځلو ميوه لرونکې ونې هم پيدا کېږي.
د دې ولايت ناک خورا نازک او بې ساري دي. په ټوله کې د بدخشان ٤۵۰ جريبه ځمکه ځنگلونو نيولې ده.
ورزش
ورزش هم په دې ولايت کې د نورو ولايتونو په څېر له پخوا نه دود دی. د غرسي، توپ ډنډې، پهلوانۍ او ډېرې اچونې لوبې له پخوا نه پکې دود دي، خو اوسمهال يو څه پيکه شوې او ځای يې عصري لوبو نيولی چې له واليبال، فوټبال، پينگ پانگ، بسکټبال، کرکټ، تکواندو، جودو، کورش، شطرنج، د غرو ښکلا او نورو لوبو څخه عبارت دي.
اوسمهال د بدخشان په المپيک رياست کې ٢٤ ورزشي فدراسيونونه ثبت شوي، چې په زرگونو هلکان او نجونې په کې سپورټ کوي.
په دې وروستيو کې په دې ولايت کې نجونو د کرکټ او واليبال لوبې ته پام اړولی او په مناسبتي ورځو کې د نجونو ښوونځيو په انگړ کې يو له بل سره سيالۍ کوي.
د دې ولايت ځوانانو هم په دې وروستيو کې له کورنيو او بهرنيو لوبو ښې لاسته راوړنې او وياړونه لري، چې ځايي چارواکو يې هرکلی کړی دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ٧٦,٩٥ |
| € | ٩٠,٢٠ |
| Rp. | ٤٧٥ |
| ₹ | ١٠٤٠ |
| ¥ | ١١ |
| £ | ١٠٠ |

### بیړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیايي مرکز
166

مسير ورځپاڼه
**مسوول مدير:** اسدالله وحیدي
**مرستيال:** شفیق امیرزی
**اېډيټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبريالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافيک او ډيزاين:** ارمان
**چاپخونه:** وايګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

همیانی

# دنده باید د ارامتیا سبب شي !

ژباړه: عطامحمد میاخېل

د انسانانو دنده د هغوی پر ژوند باندې ډېره زیاته اغېزه لري. که له تاسو څخه وپوښتل شي چې په نړۍ کې تر ټولو ښه دنده کومه ده، ستاسو ځواب څه دی؟ سینمایي ستوري؟ شتمن فوټبالران؟ د نړۍ د ګرځندویانو لارښود؟ موږ دې پوښتنې ته د پوهانو د موندنو پر بنسټ ځواب ورکوو. موږ خپل د ویښتیا یو په درېیمه وخت په دنده کې تېروو، نو په دې باندې پوهېدل چې څنګه دا وخت خلاقانه او په خوښۍ او خوشالۍ سره تېر کړو، ډېر زیات مهم دی. دې ته په نه پام سره چې موږ د دندې په لوړ مقام کې یو، یا دا چې نوې مو دنده پیل کړې ده او د لارې په شروع کې یو، دا هغه موضوع ده چې باید په پام کې ونیول شي.

په کار او دنده کې د خوشالۍ لپاره لومړی ګام دا دی، هغه دنده وټاکئ چې ستاسو لپاره مناسبه وي، د دندې آسانۍ او سختۍ او یا د هغې د ګټې کچه دا نه مشخصوي، چې آیا تاسو به په هغې کې خوشاله و اوسئ او که نه، بلکې هغه څه چې ټاکونکي دي، ستاسو له وړتیاوو او لېوالتیاوو سره د هغې دندې تناسب دی، له دې امله غوره ده چې پوښتنې ته په دې بڼه بدلون ورکړو؛ کومه دنده تاسو خوشاله کوي؟ د نړۍ د ګرځندویانو لارښود اوسېدل ښه دي، که چېرې مېرمنه او اولاد مو له تاسو سره ملتیا وکړي، ډېره موده له خپلې کورنۍ څخه لرېوالی به ښه نه وي.



مسلکي فوټبالر اوسېدل ښه دي، په دې شرط چې وکولای شی ځان په لوړه سطحه کې وساتئ، زیان لیدل او نور مسایل باید تاسو له لوړ مقام څخه د زوال کچې ته راټیټ نه کړي. د سینما ستوری اوسېدل هم ښه دي، خو په دې شرط چې پوه شی په سینما کې د اوج دوره لنډه ده. له دې امله هرڅه ستاسو په لیدلوري پورې تړاو لري. په امریکا کې د وروستیو څېړنو پر بنسټ، خلک د دندې په اړه ۳ لید لوري لري؛ ځینې هغه یوازې د ګټې او معاش د تر لاسه کولو لپاره یوه لاره ګڼي. ځینې نور سر بېره پر ګټې په یو ډول د دندې مقام ته هم ارزښت ورکوي او بله ډله دندې ته د ژوند د مانا او پېژندنې په توګه ګوري.

په دې هر یوه ډله کې چې مېشت شی، کولای شی چې خوشاله و اوسئ، خو په توپیري ډول. په حقیقت کې خوښي او خوشالي یوه ټاکنه ده، دا چې خپلې دندې ته څنګه ګورئ او تر سره کوئ یې، دا ۲ لاملونه ستاسو خوښي او رضایت رامنځ ته کوي او هرڅومره چې دا خوښي او رضایت زیات شي، نو لا به پسې خوشاله شی. د دې لپاره چې په خپله دنده کې خوشاله و اوسی، باید لاملونه یې په پام کې ونیسئ؛ آیا کولای شی له خپلو همکارانو سره اړیکه ټینګه کړی؟ آیا د نویو نظریو (آیډیاو) د ځرګندولو لپاره فرصت لری؟ آیا کوم کار چې تر سره کوی، مینه ورسره لری یا یوازې د پوست د لوړتیا او د راتلونکو بریاوو په هیله په دې کار کې پاتې یاست؟

آیا کوم کار چې تر سره کوی، د نړۍ د اوضاع له ښه والي سره مرسته کوي؟ آیا اړ یاست چې هره ورځ تکراري کار تر سره کړی؟ د یا بدلون رامنځ ته کولو او د نویو تجربو د تر لاسه کولو لپاره فرصت لری؟ ډېری کسان داسې یو کار تر سره کوي، څو خپل ژوند ته مانا ور وبښي او دا کار یې ډېر زیات خوشاله کوي. ځینې داسې کار کوي چې خپل پوروړنه ادا کړي او د خپلې تفریح او اضافي لګښتونو لپاره هم پیسې ولري. په یاد مو وي چې په دواړو صورتونو کې دنده ستاسو شخصي ژوند ته بدلون ورکوي، نو د خیالبافۍ پر ځای، هغه څه مو چې خوښېږي، تر سره یې کړئ. که غواړی چې خوشاله و اوسی، د نن لپاره کار او تجربه وکړئ او خوند ترې واخلئ.

## د بشري حقونو کمېسیون: د کرونا له کبله پر خوارځواکۍ د اخته ماشومانو شمېر ۸،۱۲ میلیونو ته لوړ شوی

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون نوې خپره شوې څېړنه ښیي چې د روان لمریز کال د تلې تر ۱۹مې پورې په ټول هېواد کې ۱۱۲۶ تنه ماشومان پر کرونا ویروس اخته شوي دي. دغه څېړنه زیاتوي چې په اخته شویو ماشومانو کې ۷،۵ سلنه له اوو کلونو لږ عمر لري، ۱۶ سلنه د ۱۳ نه لږ عمر او ۷۵ سلنه له ۱۹ کلونو لږ عمرونه لري. سرچینه زیاتوي چې په اخته شویو ماشومانو کې شپږ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. څېړنه دغه راز ښیي چې د کرونا ویروس خوربدو په افغانستان کې خوارځواکي هم رامنځته کړې ده.



د بشري حقونو خپلواک کمېسیون شمېرې ښیي چې په افغانستان کې د کرونا ویروس له امله د خوارځواکو ماشومانو شمېر له ۵،۲۶ میلیونو نه ۸،۱۲ میلیونو ته لوړ شوی دی.

د څېړنې موندنې ښیي: «د کرونا ویروس د وبا په اوږدو کې ۱۰ میلیونه ماشومان ښوونځي ته له تګ پاتې دي. د ښوونې او روزنې وزارت انلاین خپرونې هم ډېرې اغېزمنې نه وې. د فقر له امله د انټرنېټ او برېښنا نه شتون امله دغه پروسه ګټوره نه وه.»

د بشري حقونو خپلواک کمېسیون وایي، په دې څېړنه کې ۱۲۰ ښوونځیو دوی ته ځواب ویلی، خو له دې ډلې یوازې پنځه ښوونځي په دې توانېدلي چې انلاین خپرونې ولري.


دغه راز یاد کمېسیون د کارکوونکو ماشومانو په اړه هم څېړنه کړې ده. دغه بنسټ وایي، د کرونا ویروس له خپرېدو مخکې په افغانستان کې ۲،۱ میلیونه افغان ماشومانو کار کاوه، خو له وبا وروسته دغه کچه ۲،۵ میلیونو ته لوړه شوې ده.

دا په داسې حال کې ده چې افغانستان د عامې روغتیا وزارت په هېواد کې د کرونا ویروس د دویمې څپې خپرېدو خبرداری ورکړی دی. د یادونې ده چې په افغانستان کې تر دې دمه څه باندې ۴۴ زره تنه پر کرونا ویروس اخته شوي دي.

## پمپیو: د سولې مذاکراتو مرکچي پلاوي دې د دایمي اوربند لپاره کار وکړي

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو په قطر کې د افغان دولت او طالبانو له مرکچي پلاوو سره په لیدنه کې هغوی هڅولي چې خپلو خبرو ته پراختیا ورکړي، څو یوه هر اړخیز او دایمي اوربند ته لاره هواره شي. نوموړي چې د اوو هېوادونو په سفر وتلی، ترڅنګ یې په قطر کې د افغانستان اسلامي جمهوري دولت او د طالبانو له مرکچي پلاوو سره لیدلي دي.

هغه له دغو لیدنو کتنو وروسته پر خپل په ټوېټر لیکلي چې له مذاکراتي ټیمونو سره د لیدنو پر مهال یې د هغوی د وروستیو پرمختګونو ستاینه کړې ده. پمپیو زیاته کړې، دواړه لوري یې هڅولي چې خپلو خبرو ته پراختیا ورکړي، څو یوه هر اړخیز او دایمي اوربند ته لاره هواره شي.



بلخوا د سولې په چارو کې د دولت وزارت له خوا په یوه خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې د امریکا د بهرنیو چارو له وزیر مایک پمپیو سره په لیدنه کې د مذاکراتي ټیم غړي او د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد هم شتون درلود.

سرچینې زیاته کړې، په دې لیدنه کې د سولې په چارو کې د دولت وزیر او د مذاکره کوونکي پلاوي غړي سید سعادت منصور نادري په تېرو کلونو کې له افغانستانه د امریکا له پرله‌پسې ملاتړه مننه کړې ده. نوموړي د سولې له هوکړې وروسته هم د دواړو هېوادونو ترمنځ د همکاریو د دوام غوښتنه کړې ده. په خبرپاڼه کې راغلي، د مذاکره کوونکي پلاوي غړو ویلي چې د افغانستان خلک په هېواد کې د وروستیو دوو لسیزو لاسته راوړونو د ساتلو غوښتونکي دي. دوی همدا راز زیاته کړې، افغانانو ته د پنځو زرو بندیانو له خوشې کېدو وروسته د تاوتریخوالو زیاتوالی د منلو وړ نه دی او دا د دوحې له هوکړې لیک سره په ټکر کې بولي.

بلخوا د طالبانو دقطر دفتر ویاند ډاکتر محمد نعیم پر ټوېټر لیکلي چې پمپیو د قطر دفتر د مشر ملا عبدالغني برادر په مشرۍ د طالبانو له پلاوي سره هم لیدلي دي. هغه زیاته کړې چې په دې لیدنه کې د طالبانو د مرکچي پلاوي مشر شیخ عبدالحکیم او نورو غړو هم شتون درلود. نوموړي ویلي، په دې لیدنه کې د دواړو لورو ترمنځ د شوې توافقنامې پر اهمیت او هغې ته د دواړو لورو د ژمنتیا په اړه خبرې وشوې، د تور لېست ختمېدو، د پاتې بندیانو د ازادولو، همدارنګه د بین الافغاني مذاکراتو اړوند موضوعاتو په اړه بحثونه شوي دي.

Maseer Daily
New Vision, New Journey

WAYGAL PRINTING CO
غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

دوشنبه د ۱۳۹۹ د لیندۍ دربیمه | د ۲۰۲۰ د نومبر ۲۳مه | ۶۳۳مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ٤ | ۱۰ | ۱۲ | ٥ | ۱٤ | ۱۱ |
| ۱ | ۱- | ٥ | ۱- | ۹ | ٥ |

شرعي وختونه: سهار ۰٥:۰۷ | لمر ختل ۰٦:۳٤ | ماسپښین ۱۱:٤۰ | مازیګر ۰۲:۲٦ | ماښام ۰٤:٤٦ | ماخوستن ۰٦:۱٤

# نړۍ



راپورونه: امریکا منځني ختیځ ته سترې جنګي الوتکې او پوځي تجهیزات لېږي

۳

## تحقیق: کمک های بین‌المللی به افغانستان زیاد موثر نبوده است



یک روز پیش از برگزاری نشست ژینو برای اعلام کمک‌های بین‌المللی به افغانستان، مجتمع جامعه مدنی افغانستان (مجما) در تحقیقی دریافته که کمک‌های بین المللی در این کشور موثریت خوبی نداشته است.

این نهاد یافته‌های تحقیق خود را دیروز در کابل اعلام کرد و گفته که تحقیقی را بر اساس مصاحبه با ۱۷۵۰ زن و مرد در ۳۱ ولایت افغانستان انجام داده است.

ایوب شهریار مسئول برنامه‌های مجتمع جامعه مدنی گفته است که علاوه بر عدم موثریت کمک‌های جهانی، رعایت نکردن ارزش‌های حقوق بشری در این کشور نیز یک چالش جدی بوده است: «در مورد موثریت کمک‌های بین‌المللی بیش از ۵۰ درصد معتقد هستند که موثریت این کمک‌ها کمتر بوده است. در موضوع تامین حقوق بشر ۸۹.۷ درصد مردم گفته اند کسانی که جرم‌های ضد بشری را انجام داده اند و ظلم کرده اند باید به پنجه قانون سپرده شوند.»

خواست مردم برای ختم جنگ و رسیدن به صلح از طریق مذاکره با گروه طالبان، ناتوانی حکومت در تامین امنیت، نبود حکومتداری خوب، فساد اداری، پاسخگونبودن حکومت و تبعیض قومی در استخدام‌ها از موضوعات دیگری است که در این تحقیق بررسی شده است. در همین حال صدیق صدیقی سخنگوی رئیس جمهوری افغانستان می‌گوید که کمک‌های بین‌المللی در افغانستان به گونه موثر هزینه شده و در بخش‌های گوناگون پیشرفت‌های خوبی صورت گرفته است: «کمک‌های جامعه جهانی برای افغانستان موثریت بسیار مهم داشته و پیشرفت‌های را که ما امروز در نتیجه تلاش‌های دولت و مردم افغانستان در حمایت جامعه جهانی می‌بینیم بدون شک قابل لمس و توجه است.»

## ماتیو بران: د ټرمپ ټاکنیز ټیم کمزورې ادعاوې کړي او د درغلیو په اړه هېڅ شواهد نه لري

د امریکا په پنسلوانیا ایالت کې یو فدرالي قاضي حکم کړی چې د پنسلوانیا ایالتي چارواکي کولای شي چې ټاکنو پایلې تایید کړي چې پر اساس یې دیموکرات کاندید جو بایډن د خپل جمهوري غوښتونکي سیال دونالد ټرمپ څخه د څه دپاسه ۸۰ زرو زیاتو رایو په ترلاسه کولو ګټونکی شوی دی. دغه پرېکړه د ټرمپ د انتخاباتي ټیم د هڅو پر وړاندې یو بل ګام دی چې غواړي د انتخاباتو پایلې په خپله ګټه واړوي.

په پنسلوانیا ایالت کې فدرال قاضي ماتیوبران ویلي چې د ټرمپ انتخاباتي ټیم کمزورې حقوقي ادعاوې وړاندې کړې چې د خپلو ادعاوو د ملاتړ لپاره یې شواهد او مدارک هم نه لرل. له دې سره سره، د ټرمپ وکیل او د هغه د انتخاباتي ټیم لوړپوړو چارواکو د محکمې دغه پرېکړه یو مثبت ګام بللی چې سترې محکمې ته د هغوی د عارض کېدو بهیر چټکوي. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا په ټاکنو کې کاندیدان د بریالیتوب لپاره ۲۷۰ انتخاباتي رایو ته اړتیا لري. جو بایډن په داسې حال کې خپله بریا اعلان کړې چې د شمېرل شویو رایو پر اساس یې ۳۰٦ انتخاباتي رایې خپلې کړې دي، خو ټرمپ چې ۲۳۲ انتخاباتي رایې یې ګټلې، تر اوسه یې خپله ماتې نه ده منلې او تور یې لګولی چې په انتخاباتو کې درغلۍ شوې دي.

## تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر یو میلیون او ۳۸۸ زره او ۹۹۸ کسانو ته ورسېد



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې ۵۸ میلیونه او ٦۴۳ زره او ۱۵۲ ته رسېدلې دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله یو میلیون او ۳۸۸ زره او ۹۹۸ کسان مړه شوي او نږدې ۴۱ میلیونه ترې بېرته رغېدلي دي.


د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه د کرونا ویروس له کبله د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو له مخې، په امریکا کې د دغه ویروس ټولې ۱۲ میلیونه او ۴۵۷ زره او ۴۴۷ مثبتې پېښې ثبت شوي او ۲٦۱ زره او ۸۴۱ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د نهه میلیونه او ۱۰۷ زره او ٦۲۲ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د شپږ میلیونه او ۵۲ زره او ۷۸٦ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریم، فرانسه د دوه میلیونه او ۱۲۷ زره او ۵۱ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ څلورم او روسیه د دوه میلیونه او ۸۹ زره او ۳۲۹ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

دغه راز هسپانیا، برېټانیا، ایټالیا، ارجنټاین او کولمبیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

# ژوند

## غواړې چې د بدن دفاعي سیستم مو پیاوړی وي؟




پوره خوب ستاسې معافیتي سیستم پیاوړی کوي، د کم خوب له امله ستاسې بدن په کمه اندازه Cytokines جوړوي، سایتوکین هغه هورمونونه دي چې انتانات ټارګېټ کوي. غذایي رژیم: غذایي رژیم یو بل مهم فکټور دی چې ستاسې د معافیتي سیستم په پیاوړتیا کې رول لري، د مېوې او سابو ډېر خوراک مو غذایي رژیم ته ور زیات کړئ.

اوبه: بدن مو د اوبو له نظره پوره وساتئ، مایعات، ډېرې اوبه او د میوو خالص جوس وڅښئ څو د معافیتي سیستم د تقویې باعث وګرځي. ویټامینونه: ویټامینA، ویټامینB٦، ویټامینD او ویټامین Eهم د معافیتي سیستم په پیاوړتیا کې رغنده رول لري او تر ټولو عالي تقویه کوونکي بیا ویټامینC دي، چې د نارنج کورنۍ په میوو کې موندل کېږي. ورزش: هره ورځ تمرین او ورزش کول مو هم دفاعي سیستم تقویه کوي، ځکه هره ورځ ورزش د T حجرات متحرکه ساتي کوم چې د سپینو کورویاتو یو ډول دی او له بدن څخه د انتاناتو په مقابل کې دفاع کوي.

## اوپو خپل نوی ځیرک موبایل معرفي کړ

اوپو کمپنۍ د ډیزاین په برخه کې د نوو تجربو کولو له امله ځانګړې شهرت لري، چې اکثره دغه تجربې یې بریالۍ او وروسته بیا د نورو کمپنیو له لوري کاپي کېږي. اوس دې کمپنۍ یو ځل بیا ځانګړی، مختلف او پرمختللی ډیزاین لرونکی ځیرک موبایل معرفي کړی. دغه ځیرک موبایل اوپو اېکس۲۰۲۱ نومول شوی او غځېدونکې مخپاڼه لري. د یادونې ده چې اوپو اېکس۲۰۲۱ یو ازمېښتي ځیرک موبایل دی او کېدای شي هېڅ خرڅلاو ته وړاندې نشي، خو دغه ټکنالوژي به د اوپو او ځینو نورو کمپنیو راتلونکو ځیرکو موبایلونو کې وکارول شي. دغه ځیرک موبایل ٦,۴ انچه مخپاڼه لري،



خو د اړتیا پر مهال د ځانګړي میکانیزم لرلو له امله پر ۷,۴ انچه مخپاڼه لرونکي ټېبلېټ بدلېږي. مخپاڼه کې دننه دوه رولېنګ موټورونو په مرسته اوپو کمپنۍ زیرو کریز مخپاڼې جوړولو

عزیزي بانک
Azizi Bank
د ازي پې (AZIPAY) پرمختللې بڼه
عزیزي بانک خپلې د ازي پې بټوې ته پراختیا ورکړې چې تاسو ته پراخ خدمتونه او ګټې لکه: بایومتریک ننوتل-د ګوتې او مخ پېژندنې له لارې، څو ژبې (پښتو، دري او انګلیسي) کارول، د ډالرو کارونه، د صورت حساب او کوچنۍ سټېټمنټ لیدل، د صرافۍ خپلکاره ماشین څخه د ازي پې پرمټ د کارت پرته پیسې وېستل، د مبایل شمېرې ته پیسو استول او د د صرافۍ خپلکاره څخه یې ماشین ترلاسه کول، د مبایل شمېرې ته کریډیټ زیاتول، د بل اداینه او نورې برخې وړاندې کوي
مهرباني وکړئ نوې بڼه یې له اپستور او پلې سټور څخه ډونلوډ (ښکته) کړئ، د لازیاتو معلوماتو لپاره 1515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ.
www.azizibank.af
1515

